مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمدزمان ستانکزی ۲۰۱۸/۰۳/۱۶

د شپږ نویم کال مهمې پېښې

شپږ نویم کال هم پای ته رسېدونکی دی. دغه کال کې افغانستان له ډېرو ستونزو سره مخامخ شو، په امنیتي ساحه کې که یادونه وشي، په شاهین قول اردو، سردار محمد داوود خان روغتون، کندهار، کابل، پکتیا، فراه، هلمند او نورو ولایتونو کې د ملي اردو او ملي پولیسو په مرکزونو خونړي او پېچلي بریدونه وشول.
د دې ساحې په بل اړخ کې افغان ځواکونو هم خپل تحرکات ډېر کړل، هوایی بریدونه یې زیات شول، امریکا او ناټو هم دې ډګر ته را ودانګل، په ننګرهار کې په داعش ډلې د بمونو مور(یعنې تر ټولو ستربم) وغورځول شو. خو جګړو کې کموالی لا نه دی راغلی، سیګر چې د امریکا په مرستو ځارنه کوي وایی، وسلوال طالبان او نورې وسلوالې ډلې په نږدې نیمایی خاورې واک چلوي.
د کابل پروسې دویمه ناسته کې طالبانوته د سولې وړاندیزونه وشول، له نورو تېرو وړاندیزونو سره ښکاره توپیر دا وو چې هر ډول وړاندې شرطونه لرې شول، د یوې سیاسي ډلې په توګه د طالبانو د منلو وړاندیز وشو نور امتیازونه هم اعلان شول، چې تر اوسه پرې طالبانو خوله نه ده خلاصه کړې او واضح یې څه نه دي ویلي، خو دې ډلې له امریکا سره د مخامخ خبرو وړاندیز کړی دی. بلخوا د امریکا د وسله والو ځواکونو قوماندان وایي چې د زور له لارې د سولې خبرو ته د طالبانو چمتو کول، د نوې تګلارې برخه ده. د امریکا د وسله والو ځواکونو د مرکزي قوماندانۍ قوماندان جنرال جوزیف ووټل دغه څرګندونې په واشنګټن کې د مشرانو جرګې د وسله والو ځواکونو کمېسیون ته کړې دي.
داسې تمه وه، چې د امریکا د نوې تګلارې تر اعلام وروسته به طالبان د سولې خبرو ته شین څراغ ښکاره کړي، خو داسې ونه شول او تر اوسه څوک نه شي ویلی چې دغه کار به کله کیږي. د حزب اسلامي رهبر ګلبدین حکمتیار چې له حکومت سره د سولې کوم تړون لاسلیک کړ، په اساس یې نوموړی کابل ته بېرته را ستون شو او د دارالامان په ساحه کې میشت شو. د هغه په راتلو سره داسې هېلې وټوکېدې چې ګڼې طالبان به هم د ده لار تعقیب کړي، خو داسې ونه شول. جګړو هره ورځ شدت واخیست، بڼه یې بدله شوه او ولسمشر په امنیتي بنسټونو غږ وکړ چې کشفي او استخباراتي معلومات جدي ونیسي.
په سیاسي ډګر کې هم شپږ نویم کال له لوړو ژورو ډک و. جنرال دوستم د احمد ایشچي په قضیه کې تورن شو، په هغه او ساتونکو یې د ایشچي لخوا د جنسي ځوروني او فزیکي ربړوني تورونه پورې شول، خو جنرال دوستم دغه تورونه رد او دا یې د ځان په وړاندې یوه توطیه وبلله، د همدې قضیې په تړاو هغه ترکیې ته ولاړ او هڅه یې وکړه چې بېرته را ستون شي، خو دغه هڅې یې بریالۍ نه شوې.
د هغه تر څنګ اجرایی رییس هم یو ځل سپیدار مانۍ کې اعتراض وکړ او ولسمشر یې د واک په انحصار تورن کړ، خو دغه ستونزه څو ورځې وروسته حل شوه او دواړو مشرانو بیا ګډ کار پیل کړ. له عطا محمد نور سره دې کال کې د ولسمشر اړیکې څېڅاند حالت کې وې، یو ځل دواړو ښې اړیکې جوړې کړې، ولسمشر هم دې مهال کې نوموړی له سرپرستي خلاص او د بلخ لپاره والي وټاکه، خو وروسته یې وویل چې د نور استعفا ور رسېدلې او ده هم منلې ده، خو نور او جمعیت د ولسمشر دغه پرېکړه وننګوله او لا هم د دواړو لورو ناندرۍ تر دې مهاله نه دې حل شوې.
د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان کړی و چې د ولسي جرګې او ولسوالیو شوراګانو ټاکنې به د ۱۳۹۷ کال د چنګاښ په میاشت کې تر سره کړي، خو اوس وایی چې ممکن دغه ټاکنې په درې میاشتو ځنډ سره د تلې په میاشت کې تر سره شي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون رییس نجیب الله احمدزی او د دې کمیسیون د دارالانشا رییس امام محمد وریماچ د ولسمشر لخوا له دندو ګوښه کړای شول، د وریماچ څوکۍ تر اوسه د سرپرست لخوا اداره کیږي خو د ټاکنو کمیسیون ریاست ګلاجان عبدالبدیع صیاد تر لاسه کړ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په اقتصادي برخه کې هم افغانستان له راز راز تحولاتو سره مخامخ شو. له پاکستان سره کلنۍ سوداګريزه راکړه - ورکړه ډېره کمه شوه، افغان چارواکي وايي، پاکستان تل سياست او اقتصاد له يو او بل سره تړلی او نور په سوداګرۍ کې په پاکستان د باوري شريک په توګه باور نه کوي.
ولسمشر غني ازبکستان، ترکمنستان، قېر غيزستان او قزاقستان ته سفرونه وکړل، د دې سفرونو موخه د منځنۍ آسيا له دې هېوادونو سره د سوداګريزو او سياسي اړيکو پياوړتيا وه. هند چې له افغانستان سره د ځمکې له لارې پوله نه لري، هڅه کوي په سوداګريز بازار کې د پاکستان ځای ونيسي او د دې لپاره چې افغانستان سره وصل شي، چابهار بندر کې يې پانګونه کړې او نورو ميليونونو ډالرو پانګونې ته يې تيارې ښودلې. هند د لومړي ځل لپاره چابهار بندر ته خپل کمکي غنم را وليږل. افغانستان کې يې تود هرکلی وشو.
د سلما بند هم دې کال کې پرانيستل شو، دغه بند د هند لخوا د نږدې درې سوو ميليون ډالرو په ارزښت جوړ شوی دی چې د اوبو د مديريت په برخه کې ستر ګام ګڼل کيږي. د ملي يووالي حکومت د اوبو د مديريت تر سرليک لاندې کابل کې غونډه جوړه کړه چې په ايران ښه ونه لګېده او ولسشمر حسن روحاني وويل چې په افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړولو په هکله دوي غلي نه شي پاتې کيدای د هغه دا خبرې په افغانستان کې په پراخ ډول وغندل شوې.
په فرهنګي ساحو کې هم د لرغونو آثارو په ساتنې او خونديتوب ټينګار وشو، د دارالامان مانۍ د اساسي بيا رغاونې کارونه پيل شول. اووه نويم کال کې د سولې عالي شورا وايي چې د سولې لپاره ستر پروګرامونه لري چې په پلي کېدو به يې د سولې ور پرانيستل شي. دوي نه دي ويلي چې د سولې په هکله د کابل لوی پروګرامونه څه دي، خو د امريکا دفاع وزير کب مياشت کې افغانستان ته د خپل سفر په مهال ويلي و دوي موندلي چې يوه ډله طالبان له افغان حکومت سره د سولې په خبرو غور کوي. خو د افغانستان نوين څېړنيز او مطالعاتي بنسټ موسس عبدالله هېواد په دې باور دی چې يوه ډله طالبان به د سولې له بهير سره يو ځای شي خو ستره برخه يې د داعش بيرغ او جامې اغوندي او په دې سره به جګړې لا پسې زور واخلي. په پاکستان فشارونه زيات شوي چې د افغان طالبانو او حقاني شبکې په خلاف کوټلي او عملي ګامونه پورته کړي، خو پاکستان وايي چې خپله خاوره کې د نورو لپاره جګړه نه شي کولی.
داسې ښکاري چې پاکستان اوس روسيې ته ور نږدې کېدونکی دی، ځکه د امريکا د افغانستان او سويلي آسيا په تګلاره کې پاکستان د ترهګرو په ملاتړ او پاللو تورن دی، خو روسيه او پاکستان دواړه وايي چې افغانستان کې داعشيان ورځ تر بلې زور اخلي او دوي (مسکو- اسلام آباد) د دې ستونزې د حل لپاره ګډ پوځي کمېيسون جوړوي.
اووه نويم کال کې د افغان حکومت لويه کارخانګې د ولسي جرګې او ولسواليو د شوراګانو ټاکنې دي، چې نړيوال پرې له وړاندې ټينګار کوي خو تر اوسه لا نه ده څرګنده چې ټاکنې به د اووه نويم کال په لړ کې وشي او که نه، او که کيږي په کومه نيټه به وي، د ناامنو ساحو وضعيت به څه ډول وي، بيا به هم هماغسې لکه پخوا ناامنو ساحو کې د ټاکنو صندوقونه نه کېښودل کيږي او په ميليونونو خلک به له خپل برخليک ټاکلو بې برخې کيږي؟!
حکومت بايد دې ستونزې ته جدي پاملرنه وکړي، او د سراسري او عادلانه ټاکنو تر سره کېدو ته لار هواره کړي څو هر افغان خپل ځان په حکومت او نظام کې شامل ووينې، د ټولنيز عدالت تطبيق، ښه حکومتوالي او له فساد سره ټينګه مبارزه هغه څه دي چې په حکومت د خلکو له لاسه تللی باور بېرته اعاده کولی شي که داسې ونه شي، دغه حکومت هم نه شي کولی د خلکو له لاسه وتلی باور بيا تر لاسه او د يوه بريالي حکومت په توګه د تاريخ په پاڼو کې وليکل شي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ